# په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه تازه راپور:

جولای – سپتمبر ۲۰۲۵

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمیشنر دفتر

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

## د دغه تازه راپور په اړه

په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه دغه تازه راپور چې د ۲۰۲۵ کال[۱] له جولای څخه تر سپتمبر پورې موده رانغاړي، د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا[۲] څخه د ورکړل شوي ماموریت سره سم، د ترسره شوې څارنې پر بنسټ ولاړ دی.

## د ښځو حقونه

### د کار حق

د ۲۰۲۵ د سپتمبر له اوومې نېټې څخه، برحاله امنیتي ځواکونو په ټول هیواد کې افغان ښځې (د ملګرو ملتونو د کارکوونکو، قراردادیانې او ښځینه مراجعینو په ګډون ) د ملګرو ملتونو دفترونو ته له ننوتلو څخه منع کړې. دغه ګام د ۲۰۲۳ د اپرېل د پنځمې نېټې د هغې خبرتیا د عملي کولو په موخه اخیستل شوی چې له مخې یې هېڅ افغانې ښځې ته اجازه نه ورکول کېږي چې د ملګرو ملتونو لپاره په افغانستان کې کار وکړي.[۳] برحاله امنیتي ځواکونه د دغه بندیز د تطبیقولو په پار په کابل، هرات او مزار شریف کې د ملګرو ملتونو د دفترونو په ورودي دروازو کې ځای پر ځای شوي وو.[٤]

د دغه راپور د چمتو کېدو تر وخت پورې، برحاله چارواکو افغان ښځو ته اجازه نه ده ورکړې چې بېرته د ملګرو ملتونو دفترونو ته ستنې شي چې له امله یې د ملګرو ملتونو افغان ښځینه کارکوونکې له خپلو کورونو څخه دنده ترسره کوي.

### زده کړې

سره له دې چې د ۲۰۲۲[٥] کال راهیسې په ټول هیواد کې د نجونو او ښځو زده کړې له شپږم ټولګي پورته په ښوونځیو او پوهنتونونو کې بندې شوې دي، خو په مدرسو کې له شپږم ټولګي څخه پورته د نجونو او ښځو لپاره دیني زده کړو ته اجازه ورکړې. د اګست میاشتې په وروستیو کې، برحاله چاراوکو په څینو ولایتونو کې داسې ګامونه پورته کړل چې هم د نجونو او ښځو پر مخ له شپږم ټولګي څخه پورته مدرسې وتړي.

- د اګست په ۲۳مه، په کابل کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت محتسبینو، د برحاله پولیسو په ملتیا، د نجونو درې مدرسې وتړلې. ویل کېږي چې دا تړل د حجاب د اصولو د سرغړونې، د شپږم ټولګي پورته د نجونو د شاملولو، او د "عصري سیکولر مضمونونو" لکه ریاضي، کیمیا، فزیک او بیولوژۍ د تدریس له امله ترسره شوي. په کابل کې نورې مدرسې لا هم د شپږم ټولګي څخه پورته د نجونو او ښځو پر مخ خلاصې دی.
- شاوخوا د اګست په ۲۶مه، د بدخشان ولایت د زیبک ولسوالۍ د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست امر وکړ چې په ولسوالۍ کې له ۱۳ کالو څخه پورته نجونې په مدرسو کې د شاملولو اجازه نه لري.
- نږدې د اګست په ۲۷مه، د پکتیکا ولایت برحاله د پوهنې ریاست امر وکړ چې ټولې دیني مدرسې دې له ۱۰ کالو څخه پورته او/یا له شپږم ټولګي پورته نجونې په درسونو کې له شاملولو څخه منع کړي. دغه امر وروسته د ټول ولایت په کچه عملي شو.

### د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د فرمانونو او حکمونو د پلي کولو اغېز

د راپور په موده کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د خپلو ولایتي ریاستونو له لارې بېلا بېل فرمانونه او حکمونه تطبیق کړي – زیاتره په خپلسرې ډول - چې د ښځو او نجونو ژوند یې اغېزمن کړی.

### د حجاب د فرمان پلي کول

د جولای او سپتمبر په میاشتو کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو د شفاهي اخطارونو او لارښوونو، ګواښونو او خپلسرو نیونو او توقیفونو له لارې د کابل او هرات په ښارونو کې د ښځو او نجونو له خوا د حجاب د فرمان د رعایتولو په موخه کمپاینونه ترسره کړل.[٦]

- د جولای له ۱۶ تر ۱۹مې پورې، د کابل ښار په بېلابېلو سیمو کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت محتسبینو د برحاله پولیسو په ملتیا،

[۱] ټولې نېټې ۲۰۲۵ کال ته منسوبې دي، مګر دا چې په بل ډول لیکل شوي وي.
[۲] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۶۲۶ شمېره پرېکړه لیک (۲۰۲۲)، د ۲۷۷۷ شمېره پرېکړه لیک (۲۰۲۵) په اساس تمدید شوی.
[۳] د ۲۰۲۳ کال د اپرېل په ۵مه، برحاله د بهرنیو چارو وزارت د ملګرو ملتونو دفتر ته خبر ورکړ چې له هماغې ورځې څخه، هېڅ افغان ښځه به اجازه ونه لري چې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې په افغانستان کې کار وکړي، او دا پرېکړه به په فعاله توګه پلي کېږي. دا پرېکړه د هغې مخکنۍ لارښوونې دوام و، چې د ۲۰۲۲ کال د دسمبر په ۲۴مه اعلان شوې وه، او له مخې یې افغان ښځې د کورنیو او بهرنیو غیر دولتي ادارو (NGOs) په فعالیتونو کې له کار کولو منع شوې وې.
[٤] یوناما (۲۰۲۵) – د ملګرو ملتونو ماموریت په افغانستان کې د ښځینه کارکوونکو د بندیزونو د لرې کولو غوښتنه وکړه تر څو هغوی وکولای شي د ملګرو ملتونو دفترونو ته اجازه ولري. (۱۱ سپتمبر). سرچینه: .https://unama.unmissions.org/un-afghanistan-calls-lifting-restrictions-female-staff-accessing-un-premises
[٥] برحاله چاراواکو په لومړي سر کې د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر په میاشت کې د شپږم ټولګي څخه پورته د نجونو ښوونځي وتړل، او د ۲۰۲۲ کال د مارچ په ۲۳مه یې اعلان وکړ چې د شپږم ټولګي څخه پورته د نجونو ښوونځي به تر بل اعلان پورې تړلي پاتې شي. له ۲۰۲۲ کال د دسمبر راهیسې، ښځې او نجونې له لوړو زده کړو څخه هم منع شوې دي.
[٦] د ۲۰۲۲ کال د می په ۷مه، برحاله د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د حجاب فرمان معرفي کړ، چې له مخې یې ښځې اړې شوې چې خپل ټول بدن پټ کړي (د خپلو سترګو په استثنا). د برحاله امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون، چې د ۲۰۲۴ کال د اګست په ۲۱مه عامه شو، د حجاب د غوښتنې قانوني بڼه ورکړه.

له ۶۰ څخه زیاتې ښځې او نجونې د حجاب فرمان د ماتولو په تور په خپلسري ډول ونیولې. دغه ښځې او نجونې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په دفترونو او د پولیسو په توقیفخونو کې له څو ساعتونو تر یوې شپې پورې په خپلسري ډول بندي وساتل شوې. د ښځو او نجونو نارینه د راخوشې کېدو په پار د هغوی له نارینه خپلوانو د لیکلو تضمینونو د لاسلیک کولو غوښتنه شوې.

- د سپتمبر له ۱۵ تر ۱۹مې پورې د هرات ښار په جبرایل سیمه کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت محتسبینو د حجاب د څار لپاره چیک پوایټونه جوړ کړل او ښځو ته یې د چادري اغوستلو امر وکړ. په ورپسې بله اونۍ کې د همدې وزارت محتسبینو یوه ډله ښځې له دې امله ونیولې چې چادري یې نه وې اغوستې. دغه ښځې وروسته له هغه خوشې شوې کله چې یې خپلوانو هغوی ته چادرۍ راوړې.

### *د محرم شرط پلي کول*

د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د محتسبینو له خوا د محرم شرط تطبیقول،[7] هغه ښځې چې محرم ورسره نه وي له بنسټیزو خدماتو لکه دوکانونه، مارکېټونه او ترانسپورتي وسایلو ته له لاسرسي یې منع کوي.

- یوناما د جولای او اګست په میاشتو کې داسې پېښې ثبت کړې چې د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو په فراه، ارزګان او کندهار ولایتونو کې له محرم پرته ښځې په مارکېټونو کې د سودا له رانیولو څخه منع کړې.
- د سپتمبر په ۲مه نېټه، کندهار ولایت کې یوه ډرایور او د ټکټ پلورونکي نمایندګۍ دوه ښځو ته چې محرم ورسره نه و د بس ټکټونو له پلورلو څخه ډډه وکړه، ویې ویل چې برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر د وزارت مامورینو له خوا ورته لارښوونه شوې چې هغو ښځو ته ټرانسپورټ مه برابروئ چې محرم ور سره نه وي او که چیرې له لارښوونې سرغړونه وکړي، جزا به ورکړل شي. ښځې اړ شوې کور ته لاړې شي، څو د سفر لپاره یو نارینه خپلوان پیدا کړي.

### *روغتیايي خدماتو ته لاسرسی*

روغتیايي خدمتونو ته د ښځو لاسرسی هم د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د محتسبینو له خوا د فرمانونو او حکمونو د پلي کولو له امله اغېزمن شوی دی. د راپور په موده کې، یوناما له هغو غیردولتي ادارو سره خبرې کړې چې روغتیايي خدمتونه وړاندې کوي، دغو ادارو ورته ویلي چې د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت محتسبین په منظم ډول د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د دوی له روغتیايي مرکزونو څخه لیدنې ترسره کوي څو وګوري چې آیا د جنسیتي تفکیک، د ښځو د حجاب، او د محرم د شتون په اړه اصول مراعت شوي که نه. د راپور په موده کې د دغې څارنې څو مشخص موارد ثبت شوي دي:

- د جولای په ۲۶مه، د ارزګان ولایت په دوو ولسوالیو کې د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبین روغتیايي مرکزونو ته ورغلي او د مرکزونو کارکوونکو ته یې امر کړی چې د شریعت احکام مراعت وکړي او د محرم پرته دې ښځو ته روغتیايي خدمات نه وړاندې کوي.
- د سپتمبر پر لومړۍ نېټه، په کندهار ولایت کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو له یوه روغتیايي مرکز څخه لیدنه وکړه، او لارښوونه یې وکړه چې ښځینه روغتیايي کارکوونکې باید د خپل محرم سره کار ته ولاړې شي، او د کار تر پایه باید محرم ورسره پاتې شي. محتسبینو همدارنګه ویلي چې د هغو ښځو درملنه باید ونه شي چې محرم ونه لري.
- د سپتمبر له ۱۰ تر ۱۴مې پورې، په پکتیکا ولایت کې د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو هغه ښځې په فزیکي توګه د ښېرنې روغتون ته له ننوتلو څخه منع کړې چې محرم ورسره نه و.

د سپتمبر په ۹مه، په کندهار کې د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست چارواکو د برحاله روغتیا ریاست له چارواکو سره غونډه وکړه او د روغتیايي سکتور غیردولتي مؤسسو ته یې یو ځل بیا د دې یادونه وکړه چې ښځینه روغتیايي کارکوونکې باید د یوه پېژندل شوي محرم په ملتیا کار ته ولاړې شي، او محرم باید د ټولې کاري ورځ په موده کې له دوي سره پاتې شي.

د سپتمبر په ۲۲مه، د کندهار ښار د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست چارواکو د غاښو کلینیکونو ته ورغلي او نارینه ډاکټرانو ته یې خبر ورکړی چې اجازه نه لري

[7] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون صراحت کوي چې د سوداګریزو او شخصي موټرو چلوونکي باید د محرم (نارینه سرپرست) پرته ښځې و نه لیږدوي. په دې اړه پخوانۍ لارښوونې له ښځو غوښتل چې د ۷۸ کیلومترو څخه د زیات واټن سفر لپاره د محرم سره ملې وي، په داسې حال کې چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون د هیڅ داسې کوم واټن یادونه نه کوي چې ښځې یې په موټر کې یوازې سفر وکړي. د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون په اړه د بحث لپاره، وګورئ: یوناما، *په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت راپور: جولای - سپتمبر ۲۰۲۴*، د اکتوبر ۳۱، ۲۰۲۴. سرچینه: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/english_-_unama_-_update_on_hr_situation_in_afghanistan_-_july-sept_2024.pdf.

چې د ښځینه ناروغانو درملنه وکړي. دوې کلینیکونو ته لارښوونه کړې چې که غواړي ښځو ته د غاښو خدمات وړاندې کړي، نو ښځینه ډاکټرې دې وګماري. ښځې له ۲۰۲۴ د دسمبر له دوهمې نیټې راهیسې له طبي مؤسسو — چې پکې د غاښونو څانګه هم شامله ده — د زده کړو څخه منع شوې دي.

## امر بالمعروف او نهې عن المنکر

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت، د ښځو او نجونو پورې اړوند فرمانونو او حکمونو باندې پر ځانګړې تمرکز سربېره (لکه څنګه چې پورته ذکر شوې) د خپل پراخ ماموریت تطبیقول جاري ساتلي، چې د سړیو او هلکانو بشري حقونه هم اغېزمنوي.

د راپور ورکولو د مودې په جریان کې، یوناما د افغان نارینه وو او ښځو د خپلسرو نیونو او توقیفونو لړ تر لږه ۴۵۶ او د ناوړه چلند ۴۴ پېښې مستند کړې چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د کارکوونکو له خوا زیاتره د ږیرې خریلو/لوبدیځ سټایل وېښتو جوړولو، د موسیقۍ غږولو یا اورېدلو، او د حجاب د فرمان د ادعا شویو سرغړونې له امله ترسره شوې دي. د بېلګې په توګه:

- د جولای له ۱ تر ۱۲مې پورې په کندهار ښار کې د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت محتسبینو سلګونه نارینه د ږیرو خریلو یا اصلاح په تور نیولي او توقیف کړي. هغوی د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په دفترونو او د ښار د پولیسو په توقیفخونو کې له څو ساعتونو تر درې ورځو پورې ساتل شوي دي. هغوی وروسته له دې خوشې شول چې ژمنه یې وکړه چې ږیره به پرېږدي.
- د سپټمبر په ۱۲مه، د کونړ ولایت په خاص کونړ ولسوالۍ کې، د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر له خوا د ولسوالۍ په محکمې کې د درېو سلمانیانو پر وړاندې د ښکلا د خدمتونو په تور علني محاکمه تر سره شوه. له دې ډلې څخه دوه تنه د درې میاشتو په بند، او یو تن د پنځو میاشتو بند په سزا محکوم شول.

د سپټمبر په ۲۱مه، برحاله د عدلیې وزارت د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر د قانون د تطبیق کمېټو طرزالعمل خپور کړ. دا طرزالعمل د تطبیق له ولایتي کمېټو څخه غواړي چې له مهمو حکومتي ادارو او دغه راز د سوداګریزو، تعلیمي، ورزشي او ځایي ټولنو له استازو سره د ناستو او سیمینارونو له لارې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون ترویج کړي.

د اګست په ۲۸مه، د طالبانو مشر یو حکم صادر کړ چې له مخې یې برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د یوې داسې مسؤولې اداري په خبر ټاکې کومه چې د رواني ناروغۍ درلودونکې خلک د درملنې لپاره سرې میاشتې ټولنې ته معرفي کوي. د سپټمبر په ۲مه، برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د یوه ټویټ له لارې له خلکو وغوښتل چې د رواني ستونزو لرونکو کسانو په پېژندنه کې ورسره مرسته وکړي.[۸] د یوناما له خوا د ترلاسه شوو معلوماتو له مخې، سرې میاشتې ټولنې ته د رواني ناروغیو لرونکو کسانو راجع کولو پروسه پیل شوې ده.

## د پولې په اوږدو کې پېښې

په اګست میاشت کې، په پکتیکا، خوست او ننګرهار ولایتونو کې د پولې په اوږدو کې پېښې د ۲۲ ملکي مرګ ژوبلې (پنځه وژل شوي، ۱۷ ټپیان دی) لامل شوې:

- د اګست په ۸مه، د پکتیکا ولایت د ورُماې ولسوالۍ په سیمه کې د پاکستاني پوځ د هوايي برید له امله دوه نارینه ووژل شول او درې نور ټپیان شول.
- د اګست په ۲۷مه، شاوخوا د شپې ۱۰:۳۰ بجې، د خوست ولایت  سپېره ولسوالۍ د سور کوخ کلي په لاهوري سیمې کې د پاکستاني پوځ د هوايي بریدونو له امله درې ماشومان ووژل شول (یوه نجلۍ او دوه هلکان) او اته نور ملکي وګړي ټپیان شول (څلور نجونې، یو هلک، دوه ښځې او یو سړی).
- د اګست په ۲۷مه، شاوخوا د شپې ۹:۰۰ بجې، د ننګرهار ولایت په غني خېلو ولسوالۍ کې د پاکستاني پوځ د هوايي بریدونو له امله څلور هلکان او دوه ښځې ټپیان شول.

د اګست ۲۷مې پېښو ته په غبرګون کې برحاله د بهرنیو چارو وزارت پر خپله ټولنیزه ایکس پاڼه (پخواني ټویټر) یوه اعلامیه خپره کړه چې په کې ویل شوي وو چې د پاکستان سفیر یې احضار کړی او هغه ته یې د اعتراض لیک سپارلی دی، چې پاکستان ته واضح کړي چې د افغانستان د خاورې ساتنه د برحاله اداري لپاره یوه سره کرښه ده او داسې اقدامات به عواقب ولري[۹]. برحاله دفاع وزارت هم پر خپله ټولنیزه ایکس پاڼه (پخواني ټویټر) یوه اعلامیه خپره کړه او بریدونه یې وغندل، او د دې یادونه یې کړې چې دغه ډول

[۸] د برحاله امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د ایکس (پخواني ټویټر) پاڼه وګورئ، د لاسرسي ور: https://x.com/MOPVPE/status/1962810851422867947 :(وروستی لاسرسی: ۱۵ سپتمبر ۲۰۲۵).
[۹] سرچینه: د برحاله بهرنیو چارو وزارت ایکس (پخواني ټویټر) پاڼه (https://x.com/MoFA_Afg/status/1961023000360456362)

اقدامات د هیڅ یوه لوري په ګټه نه دي، د دوو مسلمان هېوادونو تر منځ واټن زیاتوي، او دغه اقدامات به عواقب ولري.[۱۰]

## بدني سزا

برحاله چارواکو په اونیز ډول په عام محضر کې د قضايي بدني سزاګانو تطبیقول جاري ساتلي. ډېری وختونه د بند سزا سربېره د بند سزاګانې هم پلې کېږي.

د جولای او سپتمبر د ۳۰ ترمنځ، د یوناما د بشر حقونو څانګې، لږ تر لږه د ۲۴۲ کسانو (۱۹۱ سړي، ۴۸ ښځې، یو هلک، او دوه نجونې) په وړاندې قضايي بدنی سزاګانې مستندې کړې دي.

د بېلګې په توګه، د اګست په ۱۳مه، په سرپل کې برحاله د استیناف محکمې په عام محضر کې ۲۱ کسان (۴ ښځې او ۱۷ نارینه) د ۲۱ څخه تر ۳۹ دورې ووهل، وروسته له دې چې هغوی د بېلابېلو جرمونو لکه له کور څخه تښتېدو، د مقابل جنس سره د تلیفوني اړیکو نیول، غلا، زنا، او قتل په تور محکوم شوي وو.

## د تېر حکومت چارواکي او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو پخواني غړي

د راپور په موده کې، د برحاله چارواکو ګڼ شمېر عامه څرګندونې وکړې او عمومي بخښنې ته یې د خپلې ژمنې بیا یادونه وکړه. د بېلګې په توګه، د جولای په ۱۷مه، کله چې خبرونه خپاره شول چې د بریتانیا د دفاع وزارت یوه لیک له امله د افغانستان په بریتانوي ځواکونو پورې تړلي ۱۹۰۰۰ افغانانو لست په ناخاپي ډول خپور شوی، د برحاله چارواکو د مرستیال ویاند حمدالله فطرت په غبرګون کې پر خپله ټولنیزه ایکس (پخواني ټویټر) پاڼه کې یوه اعلامیه خپره کړه چې په کې ویل شوي وو چې "عفوه د هر چا لپاره" او دا چې "هیڅوک د خپلو تېرو کړنو له امله نه دی نیول شوی یا وژل شوی". اعلامیې همدارنګه ویلي چې: " استخباراتي ارګان ارتیا نه لري چې هغه کسان تعقیب کړي چا ته چې مخکې بخښنه شوې. په دوي پورې اړوند ټول اسناد او معلومات د دفاع، کورنیو چارو، او استخباراتو وزارتونو کې موجود دي؛ موږ اړتیا نه لرو هغه اسناد وکاروو چې د برتانیې له خوا خپاره شوي."[۱۱]

د جولای په ۲۴مه، د یوناما راپور، *هیڅ خوندي ځای نشته: هغو کسانو لپاره د بشري حقونو خطرونه چې په جبري توګه افغانستان ته ستانه شوي*[۱۲] ته په غبرګون کې، د برحاله چارواکو مرستیال ویاند په خپله ټولنیزه شبکه ایکس (پخواني ټویټر) کې یوه اعلامیه خپره کړه چې په کې ویل شوي ټول راستنیدونکې کډوال له عمومي بخښنې څخه برخمن دي، او که څه هم ځینې کوچنۍ پېښې رامنځته شوي، دا شخصي موخې لري نه سیاسي، او ټولې پېښې څېړل شوي او مرتکبین یې مجازات شوي[۱۳].

د جولای له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰مې پورې، د یوناما بشر حقونو څانګې د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د پخوانیو غړو د ۱۴ وژنو سربېره، د دوي په وړاندې د خپلسري نیونې او توقیف لږ تر لږه ۲۱ مورده، او د شکنجې او ناوړه چلند لږ تر لږه درې مورده مستند کړې. د بېلګې په توګه، د جولای په ۲۰مه، د بغلان ولایت د تاله او برفک ولسوالۍ کې یو پخواني د افغان محلي پولیسو افسر د دوه کسانو له لوري وویشتل او ووژل شو. د سپتمبر په ۲۲مه، د سرپل ولایت، سرپل ښار کې، د ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو یو پخوانی سرتیری چې خپل دوکان ته پر لار و، د دوو نامعلومو کسانو له خوا ووژل شو. هغه د تېرو درې کلونو راهیسې د دوکاندار په توګه کار کاوه.

یوناما همدارنګه د هغو کسانو پر وړاندې چې تازه له ایران او پاکستان څخه افغانستان ته راستانه شوي له محاکمې پرته وژنې او خپلسرې نیونې مستند کړې. د بېلګې په توګه، د سپتمبر په ۲۹مه، د فاریاب ولایت، خواجه سبزپوش او اندخوی ولسوالیو کې، د ترهګرۍ ضد ولایتي واحد د ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو پخواني سرتیري له ایران څخه د هغوي تر اجباري راستنیدنې لږ وروسته ونیول. د دوي پر وړاندې تورونه نامعلوم دي.

## په هرات کې په عام محضر کې ننداري ته د جسد ایښودل

د اګست په ۲۲مه نېټه، په هرات ښار کې د درب کندهار په سیمه کې برحاله پولیسو یو سړی وواژه وروسته یې جسد د رینجر موټر شاته کشاوه، او بیا یې په یوې څلور لاري کې د زوړ پوځي ټانک له میل څخه ځوړند کړ. د دغه سړي د وژنې لاملونه تر اوسه نه دي معلوم.

## د دین او فکر ازادي

د راپور ورکولو په موده کې، برحاله چارواکو د هغو اشخاصو

[۱۰] سرچینه : د برحاله ملي دفاع وزارت ایکس (پخواني ټویټر ) پاڼه. https://x.com/MoDAfghanistan2/status/1961162256898752934
[۱۱] د برحاله چارواکو د ویاند مرستیال حمدالله فطرت[@FitratHamd] ، ایکس (پخوانی ټویټر) پاڼه، ۱۷ جولای ۲۰۲۵، ۱:۱۹ ماښام. سرچینه : https://x.com/FitratHamd/status/1945767838226034992
[۱۲] یوناما، "هیڅ خوندي پناه نشته: هغو کسانو ته د بشري حقونو خطرونه چې په جبري توګه افغانستان ته راستانه شوي"، ۲۴ جولای ۲۰۲۵. سرچینه : https://unama.unmissions.org/sites/default/files/unama_hrs_-*human_rights_risks_and_returns*-_3_august_25_final.pdf
[۱۳] د برحاله چارواکو د ویاند مرستیال حمدالله فطرت[@FitratHamd] ، ایکس (پخوانی ټویټر) پاڼه، ۲۴ جولای ۲۰۲۵، ۶:۵۳ ماښام. سرچینه : https://x.com/fitrathamd/status/1948388504670536091?s=46&t=VEDmE35bfUTr2GXcjiUqLA

پر وړاندې اقدام کړی چې د دوی په وینا په مذهبي سرغړونو تورن وو:

- د جولای په ۱۷مه، د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ویاند پر ایکس پاڼي (پخواني ټویټر) اعلان وکړ چې یو کس د برحاله ابتدايي محکمې له خوا دین ته د سپکاوي په تور د مرګ په سزا محکوم شوی دی. د راپورونو له مخې دغه شخص د جون په ۱۹مه په پکتیکا ولایت جانيخېل ولسوالۍ کې د دیني زده کړو په پرتله معاصرو زده کړو ته د ترویج په اړه د څرګندونو په تړاو نیول شوی. وروسته برحاله د استیناف محکمې له خوا د نوموړي سزا د دوه کالو بند ته راکمه شوه. د راپور تر خپرېدو پورې، دا قضیه لا اوس هم له برحاله سترې محکمې سره ده .
- د سپتمبر په ۶مه، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ویاند یوه اعلامیه په ایکس (پخواني ټویټر ) خپره کړه، چې اعلان یې وکړ چې د تېرې ورځې په جریان کې یې په کابل کې یو مشهور صوفي روحاني مشر نیولی دی.[۱۴] په اعلامیه کې ویل شوي و چې نوموړی "د تصوف نوم څخه د ناوړه استفادې او د غیر شرعي کړنو د ترسره کولو" په جرم نیول شوی دی. همدارنګه، په اعلامیه کې ټینګار شوی و چې: "افغانستان یو اسلامي هېواد دی، ټول اتباع یې مسلمانان او د حنفي فقهې پیروان دي." یاد روحاني مشر د همدې پر همدې ورځ له توقیف څخه خوشې شو.

د بدخشان ولایت په څینو ولسوالیو کې، د برحاله چارواکو لهخوا د اسماعیلي ټولنې پر غړو فشار دوام لري چې سني مذهب ته واوړي.[۱۵] د بېلګې په توګه، په نُسَی ولسوالۍ کې ویل کېږي چې د برحاله چارواکو لهخوا د ټولنیزو مرستو ترلاسه کول د سني مذهب منلو پورې تړل شوي دي. په نُسَی، شِکای او مَیَمَی ولسوالیو کې کورنۍ اړ دي چې خپل ماشومان په سني مدرسو کې شامل کړي، او که دا کار ونه‌کړي، د ۲۰۰۰۰ افغانیو (شاوخوا ۲۵۰ ډالرو) څخه تر ۱۰۰۰۰۰ افغانیو (شاوخوا ۱،۲۶۰ ډالرو) پورې جریمې سره به مخ شي. د جولای په ۴مه، د زیباک ولسوالۍ د تېزاب کلي یو مخور د نامعلومو کسانو لهخوا ووژل شو. د راپور د خپرېدو تر وخت پورې، د دې پېښې په تړاو څوک نه دي نیول شوي.

## د بیان ازادي

په اګست کې، برحاله د لوړو زده کړو وزارت د ۶۷۹ منع شویو کتابونو لست پوهنتونونو ته واستاوه. دغه کتابونه بیلا بیل پراخ موضوعات لکه بیمې، بانکدارۍ، حکومتولۍ، دیموکراسۍ، اساسي قانون، تحقیقي ژورنالیزم، د ایران تاریخ، او همدارنګه د ایراني لیکوالانو او خپرندویانو لهخوا خپاره شوي آثار تر پوښښ لاندې نیسي. د سپتمبر په لومړیو کې، د برحاله لوړو زده کړو وزارت علمي چارو مرستیال په کابل ښار کې د دولتي او خصوصي پوهنتونونو له ریيسانو او د دیپارټمنټ له مشرانو سره ناسته ترسره کړه ترڅو د پوهنتونونو د نصاب د اصلاح موضوع وڅېړي. د بدلونونو له ډلې څخه یو دا و، چې پوهنتونونو ته لارښوونه وشوه چې د ښځینه لیکوالانو د کتابونو تدریس او پر هغوی حواله منع کړي، پرته له دې چې محتوا یا د لیکوال تابعیت په پام کې ونیول شي.

## د رسنیو سکتور

د خصوصي رسنیو فعالیتونه د سختو مالي ستونزو او د برحاله اداري لهخوا د لګول شویو محدودیتونو له امله په دوامداره توګه راکمېږي.

له هغه وروسته چې په مۍ میاشت کې د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت اعلان وکړ چې د ټولنیزو شبکو د څارنې رول به یې پراخېږي،[۱۶] یوناما د هغو کسانو ګڼ شمیر خپلسرې نیونې او توقیفونه مستند کړي چې په ټولنیزو رسنیو کې یې مطالب خپرول.

د رسنیو ښځینه کارکوونکې له اضافي محدودیتونو سره مخ دي، او هغه لږې ښځینه خبریالانې چې لاهم کار ته دوام ورکوي، له ډېرو سترو ننګونو سره مخ دي. د اګست په ۲۶مه، په کابل ښار کې، د یوې مطبوعاتي ناستې پر مهال یوې ښځینه خبریالې هڅه وکړه چې د برحاله اداري ویاند څخه پوښتنه وکړي، خو د هغې مایکروفون په قصدي ډول بند کړای شو. همدارنګه، د جولای په ۲۴مه، په کابل ښار کې، د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت او د برحاله استخباراتو عمومي ریاست کارکوونکو د افغانستان د

[۱۴] برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ویاند اکس پاڼه: ( https://x.com/SAiFKHAiBAR1718/status/1964191130259472628 )
[۱۵] د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ تر ۳ فبرورۍ پورې پېښې د «په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت: د جنورۍ – مارچ ۲۰۲۵ تازه راپور» راپور کې ثبت شوي. شتون لري په : https://unama.unmissions.org/sites/default/files/unama_update_on_human_rights_in_afghanistan_january-march_2025.pdf, مخ ۶: سره له دې، د دې راپور ورکولو په موده کې، یوناما د هغو کسانو پر وړاندې د فزیکي بریدونو پېښې نه دي ثبت کړي چې د تیر راپور ورکولو په موده کې یې د مذهب د بدلون غوښتنې رد کړې وې.
[۱۶] د ۲۰۲۵ کال د مې په ۱۲مه، برحاله د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت اعلان په افغانستان راډیو تلویزیون کې خپور شو : https://x.com/rtadarinews/status/1921787146626617562 وروستی لاسرسی: ۷ اکتوبر ۲۰۲۵.

رسنیو سازمان، هغه سازمان چې د ښځینه ګډونوالو لپاره د ژورنالیزم روزنیز ورکشاپونه ترسره کوي، دړې نارینه کارکوونکي ونیول او بد چلند یې ورسره وکړ. هغوی د ښځو د زدکړو د ترویج، د فحشا د خپرولو او د جاسوسۍ په تور نیول شوي دي. د استخباراتو عمومي ریاست یوناما ته په شفاهي ډول ویلي چې یاد کسان د استخباراتو په توقیف کې دي او د هغوی دوسیه د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت لهخوا برحاله محکمې ته سپارل شوې ده. درې واړه نارینه لا اوس هم په بند کې دي.

## عدلي اجراات

### *د تطبیق وړ قانوني چوکاټ*

د اګست په ۱۴مه، برحاله ویاند ذبیح‌الله مجاهد په یوه مرکه کې څرګنده کړه چې په افغانستان کې هیڅ قانوني تشه شتون نه لري، ځکه چې یو اسلامي حکومت په واک کې دی او اسلامي شریعت پلې کېږي. هغه زیاته کړه چې اوسنی لومړیتوب د وزارتونو او نورو ادارو لپاره د قوانینو جوړول دي.[۱۷]

د اګست له ۱۸ تر سپتمبر۲۵مې پورې، برحاله د عدلیې وزارت د رسمي جریدې[۱۸] له لارې د یو شمېر قوانینو خپرېدل اعلان وکړ، چې پکې: د مالي محاسبې قانون[۱۹]، د حاجیانو د ښوونکو قانون[۲۰]، د شعر او ادبي محفلونو د تنظیم قانون[۲۱]، د وزارتونو او امارتي ادارو د قراردادونو قانون[۲۲]، د خوړو، درملو او روغتیايي توکو د قاچاق د مخنیوي قانون[۲۳]، او د تعرفې د بورډ قانون شامل دي .[۲٤] د برحاله عدلیې وزارت وبپاڼه، چې د ۱۹۶۴[۲۵]کال راهیسې د افغانستان د قوانینو ټولګه په کې خپرېږي، څرګندوي چې د ۲۰۲۱ کال د اګست تر نیټې مخکې ټول تصویب شوي قانوني اسناد "لغوه" ګڼل شوي، او هغه قانوني متون چې د برحاله اداري لهخوا صادر شوي لکه فرمانونه، احکام، فتواوې او نور قانوني اقدامات، د "نافذ" په توګه لیست شوي دي.

### *د بندیانو حقونه*

د جولای په میاشت کې، برحاله د زندانونو د چارو د سمون اداري له برحاله ادارو سره د همغږۍ او مشارکت په اړه د بحث په موخه غونډې ترسره کړې. له برحاله پوهنې وزارت سره د نږدې ۲،۴۰۰ [۲۶]بندیانو لپاره د سواد زدهکړې د برابرولو او له برحاله کار او ټولنیزو چارو وزارت سره د بندیانو لپاره د مسلکي روزنې د برابرولو په اړه ناستې ترسره شوې.[۲۷]

د سپتمبر په ۱۳مه، برحاله سترې محکمې ټولو برحاله محکمو ته یو متحد المال خپور کړ، چې له مخې یې هغه هیئت چې د بندیانو د خوشې کولو یا د جزا کمولو لپاره زندانونو ته ځي تر څو وړ زندانیان په ګوته کړي، باید د برحاله استیناف محکمې رئیس یا د برحاله جزايي څانګې رئیس په مشرۍ وي، او په ترکیب کې یې باید د اړوندې محکمې یو قاضي، د والي د دفتر استازی، د پولیسو استازی، او د استخباراتو د عمومي ریاست استازی شامل وي.[۲۸]

### *په برحاله اداروکې د برحاله وزارتونو د کړنو څخه د څارنې اړوند بدلونونه*

د اګست په ۱۶مه، د برحاله کورنیو چارو وزارت ویاند په یوه مرکې کې وویل چې د کورنیو چارو وزارت اوسني لومړیتوبونه د پولیسو مسلکي کول او له خلکو سره د اړیکو ښه کول دي. د ویاند په وینا، تر اوسه اخیستل شوي ګامونه په لاندې ډول دي: د پولیسو اکاډمۍ سره د ټولو مجاهدینو [طالب جنګیالیو] د ټول رتبو روزنه او د یونیفورم اغوستلو

[۱۷] بي بي سي پښتو، سرچینه: https://youtu.be/Nc2MR1m_L60?si=dUQAw9jcwjUKvZg4، ۱۴ اګست ۲۰۲۵ [وروستی لاسرسی: ۵ اکتوبر ۲۰۲۵].
[۱۸] ټول متونه د برحاله عدلیې وزارت په وېبپاڼه کې شتون لري:(http://laws.moj.gov.af/ShowLawPersian.aspx
[۱۹] برحاله د عدلیې وزارت د اکس پاڼه، (https://x.com/MojAfghanistan/status/1957418945700643231)، ۱۸ اګست ۲۰۲۵ [په وروستي ځل د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۵ نېټه لیدل شوی: ۵ اکتوبر ۲۰۲۵].
[۲۰] برحاله د عدلیې وزارت د اکس پاڼه ، https://x.com/MojAfghanistan/status/1960223926509789394)، ۲۶ اګست ۲۰۲۵ [په وروستي ځل د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۵ نېټه لیدل شوی ].
[۲۱] برحاله د عدلیې وزارت د اکس پاڼه ، ,https://x.com/MojAfghanistan/status/1961663170856017980) ۳۰ اګست ۲۰۲۵ [په وروستي ځل د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۵ نېټه لیدل شوی ].
[۲۲] برحاله د عدلیې وزارت د اکس پاڼه ، https://x.com/MojAfghanistan/status/1964206922514432324)، ۶ سپتمبر ۲۰۲۵ [په وروستي ځل د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۵ نېټه لیدل شوی].
[۲۳] برحاله د عدلیې وزارت د اکس پاڼه ، https://x.com/MojAfghanistan/status/1968541299738345780)، ۱۸ سپتمبر ۲۰۲۵ [په وروستي ځل د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۵ نېټه لیدل شوی ].
[۲٤] برحاله د عدلیې وزارت د اکس پاڼه ،( https://x.com/MojAfghanistan/status/1971102824944824743)، ۲۵ سپتمبر ۲۰۲۵ [په وروستي ځل د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۵ نېټه لیدل شوی].
[۲۵] برحاله د عدلیې وزارت د اکس پاڼه ، http://laws.moj.gov.af/ShowLawPersian.aspx، [په وروستي ځل د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۵ نېټه لیدل شوی].
[۲۶] برحاله د زندانونو د چارو د سمون د اداري اکس پاڼه ، (https://x.com/opa_af/status/1944710168761036828)، ۱۴ جولای ۲۰۲۵ [په وروستي ځل د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۵ نېټه لیدل شوی ].
[۲۷] برحاله د زندانونو د چارو د سمون د اداري اکس پاڼه (https://x.com/opa_af/status/1948034366296236178)، ۲۳ جولای ۲۰۲۵ [په وروستي ځل د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۵ نېټه لیدل شوی].
[۲۸] برحاله سترې محکمې اکس پاڼه،( https://x.com/SupremeCourt_af/status/1966903657724866846)، ۱۳ سپتمبر ۲۰۲۵ [په وروستي ځل د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۵ نېټه لیدل شوی].

لاربښوونې.[۲۹] هغه همدارنګه وویل چې ۶۵،۰۰۰ پخواني د جمهوریت د پوځ غړي لا هم د برحاله کورنیو چارو وزارت لپاره کار کوي، او ۲،۰۰۰ ښځې د برحاله پولیسو په توګه دنده ترسره کوي.[۳۰]

د ۲۰۲۵ کال د اګست په ۱۶مه، د برحاله سترې محکمې خپله د قضا په نامه مجله خپره کړه چې په کې د "ځانګړې خپرونې" له لارې د مرکزي قضايي تفتیش عمومي ریاست فعالیتونه بیان شوي وو، چې په کې: د برحاله محکمو څارنه، له خلکو سره د برحاله محکمې د کارکوونکو چلند په ګډون د محکمې د پریکړو کیفیت او کمیت؛ له بندیانو سره لیدنه او د دوی د ستونزو د حل لپاره له برحاله محکمو سره د وړاندیزونو شریکول؛ او د برحاله محکمو پر وړاندې د شکایتونو څېړل. مجله هغو کسانو ته بلنه ورکوي چې د یوې محکمې یا د محکمې د غړي پر وړاندې شکایت لري، د رشوت غوښتنې شکایتونو په ګډون، چې برحاله سترې محکمې ته په دې اړه لیکلې عریضه وړاندې کړي.

د ۲۰۲۵ کال د اګست په ۲۶مه، برحاله د رئیس الوزراء مرستیال د افغانستان ملي پراختیايي ستراتیژۍ، یو پنځه کلن چوکاټ چې ښه حکومتولۍ او د قانون واکمنۍ، امنیت او عامه نظم، او ټولنیز-اقتصادي پرمختګ پر درېو ستنو پر بنسټ ترتیب شوې، د پیل اعلان وکړ. په لومړیتوبونو کې د عامه ادارو شفافیت او حساب ورکونې ښه کول، د امنیت او دفاعي سکتور اصلاح، د عامه خوندیتوب ډاډمن کول، او د اسلامي شریعت سره سم د امنیتي او دفاعي مؤسسو د نصاب بیاکتنه شامل دي. ستراتیژۍ ژمنه کوي چې په راتلونکو پنځو کلونو کې د شریعت قانون بشپړ انسټیټوټي کول د هېواد د قوانینو اساس او په ټولو کچو کې د پرېکړو بنسټ جوړ کړي.[۳۱] دغه ستراتیژي هغو ننګونو او سیسټماتیک تبعیض ته د حل لارو یادونه نه کوي، له کومو سره چې افغان ښځې او نجونې مخ دي.

[۲۹] د جولای په ۷مه، برحاله د کورنیو چارو وزارت اعلان وکړ چې ټول برحاله چارواکي او نظامي پرسونل باید د رسمي ساعتونو پر مهال یونیفورم واغوندي. دغه پالیسي د پولیسو د عامه پېژندنې، د امنیت ټینګولو، د قانون پلي کولو، او د جرم سره د مبارزې لپاره ده، او دا د کورنیو چارو د وزارت د پرسونل لپاره واضح توپیر رامنځته کوي. وګورئ : https://x.com/moiafghanistan/status/1942091108386787783، [وروستی لاسرسی: ۵ اکتوبر ۲۰۲۵.]

[۳۰] برحاله د کورنیو چارو وزارت ویاند، https://x.com/abdulmateenqani/status/1956684019183313221، ۱۶ اګست ۲۰۲۵ [په وروستي ځل د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۵ نېټه لیدل شوی].

[۳۱] د افغانستان ملي پراختیايي ستراتیژي، کالونه ۱۴۰۴ – ۱۴۰۸ (۲۶/۲۰۲۵ – ۳۰/۲۰۲۹) «د ثبات او هوسایني په لور» (غیر رسمي ژباړه). وګورئ د برحاله مرستیال لومړي وزیر دفتر، ۲۶ اګست ۲۰۲۵، [ https://www.dpmea.gov.af/1404-English-News-89په وروستي ځل د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۵ نېټه لیدل شوی .]